د افغانستان اسلامي امارت

د چارو اداري لوی ریاست

د امارت چارو د انسجام معاونیت

د کابینې او عالي کمېسیونونو چارو د انسجام ریاست

**ګڼه:** ٥١٤٧ — ۱۴۴۷/۳/۲۴ **نېټه:** / / ۱۴۴۷

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د صنعت او سوداګرۍ درانه وزارت ته!**

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته!

**موضوع: د اقتصادي درانه کمېسیون د ۱۴۴۷هـق کال د لومړۍ ګڼې مصوبې د دوه‌یمې پرېکړې د پلي کېدو غوښتنه؛**

د ا.ا.ا د اقتصادي درانه کمېسیون د ۲۷/۱/۱۴۴۷ نېټې (۱) ګڼه مصوبه، د ۱۷/۳/۱۴۴۷ نېټې (۴۶۲۳) ګڼه‌لیک په ترڅ کې ابلاغ شوه، د یادې مصوبې دوه‌یمه پرېکړه چې داسې څرګندوالی لري: " **د صنعت او سوداګرۍ وزارت له لوري د ۵/۸/۱۴۴۵ نېټې (۱۰۱) ګڼه وړاندیز له‌مخې په صادراتو کې د ښکېلو وزارتونو او ادارو د سیسټم یو ځای کولو طرحه د اقتصادي کمېسیون له لوري د تأیید وړ ده او د یادې طرحې چارې دې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت په همکارۍ ترسره شي."** د کاري تړاو او په مصوبې کې د ځانګړو شویو تطبیق کوونکو مراجعو له‌مخې در ولېږل شوه، ترڅو د ټاکل شوي وخت په پام کې نیولو سره، چارې سمبال کړئ.

د یادې مصوبې پورتنۍ پرېکړه وکتل شوه، هیله ده چې د موضوع اړینوالي ته په کتو سره، د پرېکړې له منځپانګې سره سم کوټلي ګامونه اوچت او د کړنو پرمختګ او څرنګوالي راپور شریک کړئ، ترڅو په رڼا کې یې واکمنو مراجعو او د مشرتابه عالي مقام دفتر ته پر وخت ډاډ ورکړل شي. والسلام

**شیخ الحدیث نورالحق انور**

**د ا.ا.ا د چارو اداري لوی رئیس**

۱۴۴۷

قید وارده

۱۴۴۷-۳-۲۷

**کاپي:**

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ درانه وزارت ته؛